مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۸/۰۷

# کافر دېوال

د دي صنف دېوال کافر دی، د مکتب تالی کافره!
د تیارې عذاب ثواب دی د رڼا ډالۍ کافره!

دا چې لاس کې يې بکسه ده دا پېښې دي د غربيانو
دا مکتب ته ده روانه دا خوږه نجلۍ کافره!

دا معلم چې ورته وايي دا چار عيبي شريعي دی
دغه مخته مېز ملحد دی دا پرته چوکۍ کافره!

توره شپه خو د لوطيانو ګناهونو ته پرده ده
تروږمی ده مسلمانه دا رڼه سپوږمۍ کافره!

دا تخته پېښې د لَوح کرې پرې ليکلي مباح توري
د حراء اقراء باوره! کړه د وخت زندۍ کافره!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ